رالیږنه: محمد ایاز نوری

۲۵/۰۴/۲۰۱۰

لیکونکئ: شهزاده ډاکټر احسان الله ( د افغانستان )


## د افغان ملی اتل اعلیحضرت غازی امان الله خان
## د مړینې د پنځوسمې کلیزې په یاد

د والاحضرت شهزاده ډاکټر احسان الله خان ( د افغانستان ) پیغام




اعلیحضرت امان الله خان غازی در روم
سال ۱۹۵۱ع

هیواد والو، زما د ګران افغانستان ورونیو او خویندو!

تاسو هر یوه ته د خپل سلام او نیکو هیلو څخه پس!

نن د ۱۳۸۹ هجری کال د غوایی د میاشتي ۵، چي ۲۰۱۰م کال د اپریل د میاشتي د ۲۵ نیټي سره سمون لري، برابره ده زما د پلار د افغانستان د لوی بادشاه، اعلیحضرت مرحوم غازی امان الله خان د وفات د پنځوسمي کلیزي سره. غوښتل مي دا پرتمینه ورځ د هر وطنپال او آزادي پال او ترقی خوښوونکي افغان سره شریکه کړم. البته په همدې نیته یو افغان میره او باتور د افغانستان یو پخواني بادشاه او یو رښتني استقلال پال او د هیواد په ترقی او آبادی مین انسان د پردیتوب په ټاټوبي کي له دې نړۍ سترګي پټي کړې.

بادشاه امان الله خان د ۱۹۱۹م کال د فبروری په شلمه رسما د افغانستان د بادشاهی مقام ومانه. هغه په دې باور وه، چي تر څو یي هیواد سیاسی خپلواکي تر لاسه نه کړي، د ترقي او آبادی امکان یي نشته، چي په دې ترتیب بادشاه په نوموړي نیټه د انګریزي استعمار څخه د افغانستان آزادي اعلان کړه. بادشاه پخپله یوه رسمی خطابه کي وویل:

زه غواړم په یوه بشپړ مستقل هیواد کي بادشاه اووسم. او په دې عین کي یي ورسره توره له پوښه راویسته او وي فرمایيل:

تر څو افغانستان په پوره توګه د انګریزي ښکیلاک څخه آزاد نشي، زه به دا توره په پوښ کي نکړم.او خپله وینا یي په دې جمله بشپړه کړه: افغانستان د افغانانو لپاره ...

لیکن د برتانوي استعمار امپراتوري د نوي بادشاه دا حرکت ونه مانه، چي بیا د ۱۹۱۹م کال د مي د میاشتي په اومه نیټه د افغان او انګریز توده جګړه سره پیل شوله. افغان مجاهدین د نه کافي وسلو سره سره په اتلوالئ وجنګیدل، او تر پایه یي خپل مقاومت وساته او خپله میړانه یي عملا وښوده. وروسته پس له اوږدو خبرو اترو د نوموړي کال د اګست د میاشتي د اتمه نیټه یو د سولي تړون لاسلیک شو او د انګلیس دولت د افغانستان بشپړه سیاسی خپلواکي تضدیق کړله. ټولو افغانی طبقو اوپه هیواد کي میشته قومونو د افغان بادشاه دا اقدام او برئ وستایه او ډیره خوښي یي پری وکړه

غازي امان الله خان وویل:

موږ له مختلفو قومونو څخه لکه پشتون، تاجک او هزاره یاستو، لیکن موږ یو ملت یواو یو ګډ وطن لرو، چي هغه افغانستان دئ. بیا یي وویل:

زړه ور افغان وسله وال پوځ د ملت په مرسته زموږ د آزادئ حق راحاصل کړ. اوس موږمطلقا خپلواک یو. پس له دې موږ د یوه قانوني سیاسي نظام تابع یو.هغه افغانان چي، د استقلال په جګړه کي شهیدان شوي، هغوی پر موږ لوی حق لري. هغوی باید موږ هیر نه کړو. موږ ټول د هیواد په آزادئ کي د هغوی پوروړي یو.

پس له دې سیاسي فتح څخه غازي اعلیحضرت وتوانید، خپل ټول وس او قوت د هیواد د جوړولو او ترقئ مهمو ټکو ته ورمتمرکز کړي. د اعلیحضرت پروګرام څلور هدفونه یا موخي په خان کي لرل:

۱- د هیواد د سیاسی استقلال حصول او نړیوالو ته د نوي افغانستان ورپیژندل

۲- د هیواد بیا آبادول او د ژوند نوي کول

۳- ټولنیز بنستیز بدلون او د قانون حاکمول په ټولنه کي، لکه د لومړي ځل لپاره د اساسي قانون نافذول

۴- په اوږده محال کي د اسلامي نړئ سره د اړیکو نور ټینګول او پراخول

غازي اعلیحضرت به ویل:

موږ له لسو تر پنځلسو کلونو پوري بهرنئ لاس نیوني ته اړ یو، پس له دې مودې څخه افغانستان باید کلا په ځان متکي شي او خپلي اساسي اړتیاوی پخپله ځان ته پوره کړي.

## لومړئ هدف:

د هیواد سیاسي خپلواکي د برتانوي استعمار څخه حاصل شوه. او نړیواله پیږندنه هم په ښه صورت سره پر مخ ولاړه او د هغو څو لومړنیو کلنو په ترڅ کي د دنیا معتبرو مملکتنو په مستقل افغانستان کي خپلي سیاسی نمایندګئ پرانستلي.

## دوهم هدف:

د بادشاه لپاره د دوهم مرام سر ته رسول مشکل او ستونځمن وه. ځکه چي، د دې هدف اجرا په ټرلي قومي او قبایلي او زوړ شوي دود کي آسان کار نه شو کیدلای.سره د دې موانعوو په سیاسي او اداري چوکاټ کي د وکړو د ژوند د قانوني کولو لپاره د لومړي اساسي قانون توشیح کیدل، او د اتیاوو په حدودو کي د اړوندو نظام نامو، د وزیرانو د مجلس پرانیستل او د لويي جرګي رابلل، چي هغه دم یي د موقت پارلمان بڼه لرله، په تصویب ورسیدل. بادشاه

مخصوصا د معارف ډګر ته ژورپام ورواړوه، او عملا یې په دې ډګر کې جدي کار پیل کړ، چې زه یې دلته له جزیاتو ذکر نه کوم.

## دریم هدف:

د دوهم هدف په پرتله د هیواد آبادي د اقتصادي او بنیادي اړخه د قوي اقتصاد لروونکو هیواده په مرسته ژر او ځه آسان کار وه. د افغانستان حکومت په پیل کې بی له ځنډه فني کارپوه کسان لکه، انجنیران او د ودانیو مهندیسین، طبیبان او د کرنې متخصیصین له اروپایي هیوادو څخه راوبلل، چې د هیواد د ترقي لپاره مرسته وکړي. په دې نوي زمان کې د یوه قوي او آباد افغانستان د جوړلو لپاره جوړ شوئ پروګرام به شخصا او مخامخ د بادشاه له خوا تعقیبدلو. مثلا، پخپله غازي اعلیحضرت به د هیواد مختلفو سیمو ته به چې، به په کې کار جریان درلود، د مهندسینو سره سفر کاوه، او د کار صورت حال به یې کوت.د اعلیحضرت په نظر د دارالامان نوئ ښار باید د هیواد د راتلوونکي آبادولو اساسي پیل وای او تاریخي او ښکلی کابل باید د افغانستان د پلازمینې سمبول پاتې شوئ وای.

## څلورم هدف:

غازی امان الله خان تصمیم ونیو چې، په مرور د ممکنه زمان هیواد د غربی نړئ له نفوذ څخه راوباسي او د آسیا د اسلامي هیوادو سره نژدي شي، چې دا پروګرام د بادشاه په راتلوونکي اجندا کې ځای پر ځای شوئ وه. ځکه په هغه زمان یعنی په ۱۹۲۰م کال کې افغانستان یواځنئ مستقل او د سیاسي استقلال درلودونکی هیواد وه. مثلا: د لومړی نړیوالي جګړې څخه پس ترکیه لا هم د فرانسي او ایټالیا تر استعمار لاندې وه. عربي هیوادونه د انګریزي او فرانسوي استعمار تر منځ ویشل شوي ول.دافغانستان د شمال خوا اسلامي هیوادونه د شوروي روسي استعمار سره ساتل کیدل او د ایران هیواد هم د انګلیس او روسیې د نفوذ لاندې پروت وه.په دې منځ کې فقط دا زمونږ ویاړمن افغانستان وه، چې د خپل ملي زعیم تر قیادت لاندې یې خپله مکمله خپلواکي لرله.

د غازي امان الله خان هغه وروستئ څرګندوني کله چې یې په کال ۱۹۲۹م کې اجبارا خپل هیواد پرېښوده، ویل یې:

دا نن وروستئ ورځ ده، چې تاسو د خپل بادشاه لاس ته فشار ورکوئ. البته زه نشم کولای، چې تاریخ هیر کړم.بالخصوص هغه تاریخ زما د لس کلن دوران د بادشاهئ...! ما غوښتل، چې وطن ته مې په سیاسي، اقتصادي، کلتوري او ټولنیزو برخو کې ترقي ورکړم. په دې لس کلن دور کې خوش وم، چې چې د هیواد په برخه لیک کې ګډون ولرم، مګر له بده بخته ما په کور او بهر کې داسې دښمنان لرل چې، هغوی نه غوښتل زمونږ افغانستان یومستقل او قوي هیواد جوړ شي. او بیا یې اضافه کړه:

له تاسو ټولو څخه، چې زما سره واست، منته کوم چې، زما سره د ملي دندو په اجرا کې یو ګام واست او د هیواد راتلونکي لپاره سره یو ځای وو او کار مو سره کاوه. هیر مو نشي، چې زما د مشرتوب پر وخت زمونږ ګران هیواد خپل سیاسي استقلال تر لاسه کړ او په سیاسي او اقتصادي ډګر کې یې ښه پرمختګ وکړ.یوازې د افغانستان راتلونکئ تاریخ به زما د لس کلن دور په اړه منصفانه قضاوت کوي. هیله لرم، چې زما نوم په افغانستان کې هیر نشي.

ګرانو افغانانو:

دغه ده اوس چې، د کال ۲۰۱۰م پیل دئ، په هیواد دننه، اروپا او امریکا کې خلک په آزاد ډول د اعلیحضرت غازي امان الله خان له تاریخ او کړو څخه تقدیر کوي او د هغه وطن دوست او زړه سواند بادشاه د نوم څخه په نیکئ یادونه کوي. لکه څنګه چې مې تل ویلي، پخوانیو افغان حکومتونو سره له دې چې غوښتل یې، چې زما د پلار نوم له منځه یوسي او مثلا، د دارالامان د ښار او د امانی د ښوونځي نومونو او نورو ته تغیر ورکړي، اما د هغه غازي بادشاه نوم هر وخت د افغانانو په زړه کې ژوندئ وه. غازي اعلیحضرت امان الله خان بالاخره د ۱۳۳۹ هجري کال د ثور د میاشتې پر ۵ نیټه، چې د میلادي ۱۹۶۰ کال د اپریل د میاشتې د ۲۵ نیټې سره سمون خوري، د سویس هیواد د زوریخ ښار په یوه روغتون کې د ځیګر د ناروغئ له کبله د پردیتوب پر ټاټوبي ځان حق ته وسپاره.روح دې خوشحاله وي او الله تعالی دې جنت وربرخه کړي.

زما پلار غازي اعلیحضرت د وفات په وروستئ ورځ هم فقط افغانستان یادولو او پر له پسې به یې ویل:

اې زما خدایه...

اې زما افغانستانه...

اې کابله...

اې پغمانه، اې د دارالامان غرونو...

هغه افغانستان، چې زما وطن وه...

زما مشر ورور شهزاده رحمت الله خان  پريکړه کړې وه، چې د غازي بادشاه جنازه د ايټاليا هيواد پلازميني روم په اسلامي هديره کې خاورو ته وسپاري. په دې زمان کې د ايټاليا دولت جنازه د درې ورځو لپاره په رسمي توګه وساتله. په عين د وخت کې د پاکستان د دولت له خوا وړانديز راورسيد چې، هغوى حاضر دي چې، د امان الله خان جنازه پاکستان ته راوړل شي او هلته دې زيارت پرې جوړ شي. د دې اوضاع پر انکشاف د افغانستان د ملت اعتراض پورته شو، چې څنګه د افغانستان يو نامي پاچا په يوه پردي ملک کې ښخ کيدلاى شي...!؟.په دې عين کې د افغانستان بادشاه محمد ظاهر شاه وشرميده او شهزاده رحمت الله خان ته يې وړانديز راوليږه چې، د غازى امان الله جنازه دې د ښخيدو لپاره افغانستان ته ورانتقال او په جلال آباد کې دې د هغه د پلار امير حبيب الله خان او ورور يې شهزاده رحمت الله خان د زيارت تر څنګ خاورو ته وسپارل شي. هم هغه وه، چې د رحمت الله خان د موافقې نه پس افغان حکومت يوه ځانګړې الوتکه د آيټاليا هيواد ته راواستوله او د غازي اعليحضرت جسد د هيواد د جلال آباد ښار ته ورسول شو.

د هغو درې ورځو په ترڅ کې چې، د غازي امان الله خان جنازه په روم کې موجوده وه، د ايټاليا دولت له خوا خورا درنښت ورته وړاندې شو.د افغان پخواني غازي بادشاه تابوت ته يې د AR-O۲  په مانئ ځاى ورکړ چې، د ايټاليا د حکومتي ځانګړې ګارد د دوو مسلحو ټوليو د سرتيرو له خوا د تيارسي په رسم کې يې ساتنه کيدله. په دريمه ورځ کوم وخت چې، تابوت د مانئ څخه بهر ته ليګديدلو، د سرتيرو د يوې سل کسيزې ټولى له خوا د افغانستان پخواني متوفى پاچا ته  مخصوص رسمي سلام ادا کړاى شو.

د غازي مرحوم اعليحضرت امان الله خان د وفات د پنځوسمي کليزې د ياد په پاى کې غواړم، د افغانستان د اوسنيو او راتلوونکو دولتي او حکومتي مشرانو ته ورسوم چې، زما د پلار آزادي دوسته شخصيت، وطن پالنه او افغانانو ته د خدمت احساس تل په نظر کې ولري او پر مخ ولاړ شي.

په افغاني درنښت سره

احسان الله ( د افغانستان )

جينوا – سويس

۲۵/۰۴/۲۰۱۰

Prince Ehsan Ullah d Afghanistan

Genve Suiss

۲۰۱۰_۰٤_۲٥




تابوت اعليحضرت غازى امان الله خان در روم
در سالون مخصوص و مکلل
و با بدرقۀ ګارد احترام
سال ۱۹۶۰ ع


De Italay makhsos gard de Afghan Pacha Ghazi Aman Ullah Khan jenaze ta de rasmi salam lapara, Rome - Itlay , April 1960

Photo from: Ayaz Noori

تشییع جنازۀ اعلیحضرت غازی امان الله خان در روم
با مراسم خاص عسکری و با اسکورت گارد احترام
اپریل ۱۹٦۰ ع